واحد فقيري ۲۵/۰۶/۲۰۱۲

# افغانستان او چين

څه موده کېږي چې د افغانستان او چين د اړيکو په باب يو لړ بحثونه روان دي. البته، واقعيت دا دی چې نن سبا چين د جهان دوهم ستر اقتصاد دی. توليدات يې د امريکا په شمول په ټوله نړۍ کې خرڅېږي، او مشتريان يې ورځ په ورځ زياتېږي. په نړيوالو اړيکو کې، چين ته په زياتېدونکي توګه د يوه جدي نړيوال طاقت په سترګه کتل کېږي. اما بل واقعيت دا هم دی چې چين په تاريخي لحاظ مدام د منطقوي او نړيوالو سياست سره محتاط برخورد کړی دی. چينايي مشران تل هڅه کوي چې له نړيوالو جنجالونو څخه ځان ګوښه وساتي، او پر خپل اقتصادي پرمختګ باندې زور واچوي. بله مساله دا ده چې چين دننه په هېواد کې د زيربنايي ودې او جوړولو لپاره ډېر کار ته اړتيا لري. که له يوې خوا چين د لويديځې او پرمختللې نړۍ په شان ښارونه او خدمات لري، خو له بلې خوا د يوه زراعتي او وروسته پاتې ملک غونډې کلي، ښارګوټي، او اړيکې هم لري.

مګر د شانګهای په ناسته کې د چين جمهوررئيس هوجين ټاو وويل: افغانستان همدا اوس تر يو مهم پړاو تېرېږي. موږ پدې باور يو چې سيمه ايز مشکلات بايد سيمه ايز قدرتونه مهار او حل کړي، يا يې په لومړی سر کې د راخوټېدو مخه ونيسي، او هم بايد د افغانستان په بيا ودانولو کې پوره ونډه واخلي. چين د افغانستان يو مطمين ملګری او ښه ګاونډی دی. زموږ دوستي به په راتلونکي کې هم دوام ولري، او موږ به خپلې پرمختيايي مرستې جاري وساتو. برسېره پر دې، افغانستان او چين د ستراتيژيکو همکاريو سند هم لاسليک کړ.

په همدې لړ کې، د وال سټريټ ژورنال ورځپاڼه د اپريل پر ۲۷ ليکي: د پاکستان صدراعظم ګيلاني کابل ته پخپل وروستي سفر کې حامد کرزي ته په ارګ کې ويلي وو: راځه زما سره يو ځای سه. د چين سره به يارانه ټينګه کړو. د طالبانو سره په روغه جوړه کې به هم مرسته در سره وکړم. امريکا د نيمې لارې ملګری دی او چې کار يې وسي خپل يار هېر او يوازې پرېږدي. بايي صاحب، دا خبره بار بار تجربه سوې هم ده. امريکا هيڅ وفا نلري. راځه، دواړه به د چين لمن ونيسو. چين په هر حالت کې، په سرو او تودو کې، په غم او ښادي کې، او په خاني او تنګدستي کې د سړي مل او انديوال وي. د وال سټريټ ژورنال وايي دا اسرار ورته د ارګ يوې پخې او ډاډمني سرچينې افشا کړي دي.

البته، حقيقت دا دی چې ارګ په فکري لحاظ د داسي خبرو سخت شوقي دی، او له اورېدو څخه يې خوند اخلي ځکه د ارګ سياسي طرز تفکر د دسيسې مفکورې پر محور راڅرخي. بل دا چې د ارګ لپاره په سيمه کې د نويو سياسي حاميانو پيدا کول د ژوند او مرګ مسله هم ده. څرنګه چې چين په منطقه کې نوی هژمون دی، نو بناءً د کابل لپاره بېجينګ يو طبيعي تم ځای دی.

اوس نو، په افغانستان کې د چين اهداف څه دي؟ زما په ګومان د چين اصلي هدف، البته فعلاً، امنيتي مسايل دي. چين نه غواړي چې طالبان بيا کامياب سي، ځکه چين ډارېږي چې ترک الاصله چينايي مسلمانانو لپاره به د ټېک ځای پيدا سي. د اويغور مسلمان ښورښيان به دلته ټرينينګ، دمه، او پټنځايونه ومومي؛ او يا به د افغانستان بې ثباتي د شرقي ترکستان سيمه نوره هم ناکراره کړي.

خو عيني واقعيت دا هم دی چې چين د خپل هدف د لاسته راوړلو په منظور په افغانستان کې امنيتي پانګونه نده کړې. په بل عبارت، هلته وارلاړدان نلري، د پوليسو او اردو په روزولو کې يې فعاله برخه نده اخيستې، بلکې په امنيتي ساحه کې پر ناټو او پاکستان باندې تکيه کوي. په کابل او لويو ښارونو کې د ناټو قواوو د امنيتي چتر لاندې کار کوي. او د طالبانو له حملو څخه د بچېدو لپاره د پاکستان له نفوذ څخه کار اخلي. څرنګه چې پاکستان د طالبانو حامي دی، ښايي په راتلونکي کې د طالبانو په ارتباط د چين دريځ څه نرم او يا بدل سي.

همدا راز، چين افغان ځوانانو ته د تحصيل لپاره پخپلو پوهنتونونو او مسلکي موسساتو کې د عالي او حرفوي زده کړو لپاره زمينه نده برابره کړې. چين دغه راز د افغانستان په اقتصادي سکتور کې هم د پام وړ پانګونه نده کړې. البته، چين د مس عينک او د شمال په تيلو کې پانګونه کړې ده، خو د چين اقتصادي فعاليت د افغانستان په عمومي اقتصاد کې چندان مهم اثر نلري. بلخوا، چين پخپلو پروژو کې افغانان نه استخداموي، بلکې زياتره خپله چينايان وي.

چين په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو په اړه ضدو نقيض نظر لري. چين له يوې خوا نه غواړي چې طالبان بيا حاکم سي او د هغوی سره جوخت د منطقې مذهبي افراطيان ستراتيژيک عمق پيدا کړي. بلخوا، چين نه غواړي


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

چي امريکا په افغانستان کي دايمي پوځي اډې ولري. په بل عبارت، چين په افغانستان کي ثبات او سوله غواړي، خو د امريکا درونډ نظامي حضور نه غواړي. چين له دې بابته ځان په محاصره کي احساسوي.
خو د چين د اقتصادي انکشاف دوام دا ايجابوي چي په سيمه کي د انرژي په زيرمو او کاروبار کي مطمينه او ځرګنده ونډه ولري. د مرکزي آسيا د تيلو او ګازو منابعو ته ځان رسول بايد د چين لپاره زيات اهميت ولري. بلخوا، په سيمه کي د چينايي صنعتي توليداتو لپاره غټ مارکيټ سته.
چين او افغانستان د تاريخ په اوږدو کي تجارتي او فرهنګي اړيکی لرلی، خو په ۱۹۵۵ کي د دواړو ملکونو تر مينځ رسمي ديپلوماتيکي اړيکي پيل سوې. د ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ په کلونو کي د افغانستان او چين تر مينځ روابط سوکه سوکه ډېرېدل، خو په کابل کي د کمونيستي کودتا او په تېره بيا د شوروي له يرغل سره سم د دواړو ملکونو تر مينځ اړيکي خرابي سوې. چين د ۱۹۸۰ کلونو کي د مجاهدينو سره مرسته کوله، خو د «شر او فساد» او طالبانو په ظلمتونو کي د دواړو ملکونو تر مينځ روابط په هيڅ شمارېدل. خو په ۲۰۰۱ کي د حامد کرزي د حکومت له راتګ سره سم د افغانستان او چين اړيکي يو ځل بيا ځه غښتلي سوې.
نتيجه، د چين سره سياسي او اقتصادي روابط پراخول د افغانستان په ګټه دي، خو د چين سره اړيکي بايد د امريکا او نورو ملکونو سره د روابطو د خرابېدو په قيمت تمام نه سي. په بل عبارت، د لويديځ او چين سره بايد داسي اړيکي ټينګي سي چي د هېواد عمومي ګټي خوندي کړي. افغانستان هم لويديځ او هم چين ته اړه لري.
والسلام
واحد فقيري – واشنګټن
.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ